عثمان رسولي

۲۰۱٤ / ۱۰ / ۱۱

انشاالله ملاله یوسفزې به خپلې خویندې او ورونه یوازې نه پریږدي

زما په اند که په اوسنۍ نړۍ کې که له یوې خوا ظلمونه، وحشتونه، بې عدالتی او قتلونه انسانان د مرګ کندې ته ور ټېل وهي، له بلېخوا د بشردوستی او خواخوږی حس هم دومره غښتلی شوی چې یوه کلیواله ماشومه یې د صوات له غرونو نه په یوې فوق العاده آلوتکه کې بیرمینګم ته را ورسوله او هغه یې د طالبانو له وحشیانه مرګه وژغورله.

د کوزې پښتونخوا په ګوټ ګوټ کې طالب اورپکو ناتار جوړ کړی ؤ. په علم، هنر، کتاب او قلم پسې یې سخته را خستې وه.

نه یې ښوونکي آرامه پرېښودل، نه یې زده کوونکي او نه هم عام خلک. ډېر یې لدې دنیا نه رخصت کړل او ډېر یې هم زخمیان او یا یې هم په دورو ووهل او د تل لپاره یې معیوب کړل. د علم او آدب له مرکزونو څخه شنه لوګي پورته کیدل او په بمونو آلوزول کیدل. په سل ګونو ښوونځي د طالب اورپکو د اور او بمونو خوراک شول.

په میلیونونو مسلمانان یې له خپلو کلیو او کورونو نه مهاجرت ته مجبور کړل. د دې هر څه تصویرونه یا نېغ په نېغه او یا هم په غیر مستقیم ډول په دوامداره توګه د نړیوالو تلویزیوني شبکو له لورې خپریدل او سړي ته یې د منځنیو پېړیو د جهالت اوتورتم دورې ور په یادولې. طالب اورپکو نه یوازې د نجونو، بلکې د هلکانو هیلې هم نیلې کړې.

پورتني حـالت نه یوازې زه بلـکې هر وجدان لرونکی انسان نا امیده کولو او په شوک کې یې آچولو. یوه ورځ مې په « یوتیوب » کې ناڅاپه د تنکې ملالې یوسفزۍ په باب یوه ویډیو تر سترګو شوه. سملاسي مې وکتله. د لومړي ځل لپاره مې ملاله یوسفزۍ وپېژنده. کله مې چې د دې زیرکتوب، هوښیارتوب، زړه ورتوب او میړانه ولېده، په زړه کې مې بیا هیلې او امیدونه را وټوکیدل.

د ملالې نورې ویډیوګانې مې هم پرله پسې وکتې. بالاخره د تنکې ملالې په فن بدل شوم او د هغې د یوې ویډیو لاندې مې په ډېر ویاړسره ولیکل « د لوی افغانستان راتلونکې ولسمشره ـ ملاله یوسفزۍ». څو موده وروسته مې یوه ورځ د نړیوالو رسنیو له خولې واوریدل چې طالب اورپکو د سوات په ملاله ګولۍ چلولې دي او هغه یې په سر ویشتلې ده.

سملاسي مې د هغې په باب دا لاندې لنډ مطلب ولیکلو او په ځینو پښتو سایټونو کې نشر شو چې ور نه د زړه له کومې مننه کوم: « انشاالله ملاله یوسفزۍ به خپلې خویندې او ورونه یوازې نه پریږدي » له هرڅه نه مخکې د لوې خدای ج له دربار نه تنکې ملالې ته شفا غواړم. ملاله یوسفزۍ د نړۍ په ګوټ ګوټ کې مشهوره او پېژندل شوې څېره ده.

هغه کټ مټ د میوند د ملالې په څېر یوه ډېره زړه وره اوهمدارنګه د لوړ استعداد او پوهې لرونکې پښتنه ماشومه ده چې تر اوسه یې د ژوند مزه لا نده څکلې او اېله یې د ژوند څوارلس پسرلي ترشا پرې ایښي دي. دا ډول وینې، با استعداده، د ژبې او قلم لرونکی ماشومان بې له شکه د لرو ا وبرو پښتنو د مستقبل لپاره یو روښانه او په زړه پورې زېرۍ له ځانه سره لري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له یوې مودې را پدې خوا دهشتګر په نوموړې ماشومې پسې ټوپک پلاس ګرځیدل. بالاخره پرون یې په رڼا ورځ اود پولیسو له ماموریت څخه نه دومره لېرې، بې له ډاره پرهغې د سکول په بس کې ګولۍ وچلولې او خپل زړه یې پر یخ کړ. تنکې ملاله اوس د ژوندې پاته کېدو لپاره په روغتون کې لاس اوپښې وهي اوانشا الله هغه به خپل پښتانه وروڼه اوخویندې یوازې نه پرېږدي.

که څه هم په ظاهرکې دا په تنکې ملالۍ باندې د دښمن یوه بې غیرته او له شرمه ډکه حمله وه خو په باطن کې دا د پښتنو پر راتلونکی یعنی مستقبل ډېر کلک ګوزار ؤ. حتی که ووایو چې دا زمونږ پر مغزونو ګوزار ؤ هم به مو تیروتنه نه وی کړي. د دې غیرانسانی اوکرغیرن عمل پر تر سره کولوسره دښمن مونږ ته په روښانه او واضح توګه اخطار راکړ چې نور به زمونږ غږ ونه زغمي، هیڅکله به یې هم اوچتیدو ته ته پرې نه ږدی او په ستوني کې به یې غلی کړي.

دښمن غواړي چې په هرقیمت وی پښتانه د علم او پوهې له رڼا څخه پټ په تیارو کې وساتی. ترڅو وکولای شي په اسانې سره هغوي ته ټوپک پلاس ورکړي، ځانمرګي وسکټونه ور واغوندي او د خپلو شومو او نا روا پلانونو اوعملونو د ترسره کولو لپاره یې استعمال کړي.

دا زمونږ لپاره د خطر لوي زنګ ؤ. دا زنګ که څه هم ډېر پخوا وهل شوی، خو ډېرخلک یې نه آوري او تراوسه پورې لا د پیل په غوږ کې په درانه خوب ویده دي. ځیني خلک خوخپل تنکي زامن لا تراوسه داسې مدرسو ته لیږي چې هلته د آی ایس آی کرنېلان اوجرنېلان د ملایانو په جامه کې ځانمرګي، دهشتګر اوسړي و ژونکي تربیه کوی.

ځیني نور بیا همدغو لعنتیانوته د جهاد په نوم پیسې، زکاتونه اوسرسایی ورکوي، بې لدې چې پوه شي له دوی سره خپل ځانونه پدې جرمونو او ګناهونو کې شریکوي چې هرومرو به یې په آخرت کې ځواب وایی. دا ځکه چې د اسلام پاک او مقدس دین د سولې دین دی. او د سولې په دین کې دا ډول ناجایزو او ناروا کارونو ته اجازه نشته. آیا همداسې نده؟ که داسې وي نو د خدای د پاره د دې تورمخو لعنتیانو مخه ونیسئ دې لعنتیانو ته نورد جهاد په نوم خپلې ګاڼې، پیسې، زکاتونه اوسرسایي مه ورکوئ ! بس ده، نور لدې درانه خوبه راویښ شئ! ومن الله توفیق!

هو، دا له غمه ډک خبر نه یوازې زما لپاره له اندازې زیات خواشینوونکی ؤ، بلکې ټوله دنیا یې ولړزوله. د دنیا په ګوټ ګوټ کې خلک را ووتل او د هغې لپاره یې په دعا ګانو پیل وکړ. خو د الله په دربار کې د هغې لپاره د دعاګانو تر څنګ مې په سر کې ډول ډول فکرونه راګرځیدل. خپه پدې هم وم چې ما په « یوتیوب» کې ولې ورته لیکل چې « د لوی افغانستان راتلونکې ولسمشره ـ ملاله یوسفزی» او له ځانه سره به مې ویل چې کاشکې دا خبره مې پټه په زړه کې ساتلې وای. ډېر پښیمان وم، هیڅ مې هم له لاسه نه کیدل او رښتیا مې هم د هغې د یوه فن حتی ورور او یا هم پلار په څېر له سترګو نه اوښکې توییدې. هر ګړی به مې د هغې روغتیایي حالت د انترنټ له لیارې تعقیباوه. شکر چې ملالې یوسفزی خپل وروڼه او خویندې یوازې پرې نه ښودل او له اوږدې درملنې وروسته د لوی خدای « ج » په مرسته، د پوهو او ماهرو ډاکترانو، پرمختللې تخنیک او همدارنګه د برتانیې د بشردوستی په مټ له مرګه وژغورل شوه او د نجونو او کوچنیانود حقونو لپاره یې په نړیواله سطحه خپلو فعالیتونو ته له خپلو زده کړو سره یو ځای د بیرمینکم په ښار کې له سره دوام ورکړ. نن چې له کاره راغلم او لېپ ټاپ مې خلاص کړ. سملاسې مې سترګې پدې خبر ولګېدې « ملالې یوسفزی د نوبل د سولې جایزه وګټله». دومره خوشحال شوم لکه ما چې دغه جایزه ګټلې وي.

ملالې یوسفزی ته د زړه له کومې د دې پرستیژ لرونکې نړیوالې جایزې مبارکې وایم او په لوړو بشردوستانه ارمانونو کې ورته تر دې هم لوی لوی بریالیتوبونه غواړم. د لومړې نوبل په ګټلو سره دې مونږ ته هم بې اندازې لوی ویاړ را په برخه کړ خو آیا مونږ د ستا په قدر پوهیږو؟

له بده مرغه د دې تپوس ځواب « نه» دی. ځکه خو مونږ د دې ویاړ لیاقت هم نلرو. ته نور یوازې زمونږ ملاله نه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

يي... بلکي اوس دې ټولې دنيا ملاله يې، ځکه چې دنيا هم ستا په قدر پوهيږي او هم در باندې ويارې! په پاکو او سپيڅلو ارمانونو کې له لوی خدای نه تردې لا زيات توفيق اود اوږد ژوند دعا درته کوم.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ